مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

سنګروال

۲۰۱۹/۰۸/۰۸

# د ټرمپ د ځرګندونو په غبرګون کې

د تا په لاس کې که بمونه دي، اوچکي نه دي
خو زما لاس کې هم سکونه دي، اوچکي نه دي

توپک لرې او د اتوم په برجو ځان ساتی شې
زمونږ سینو کې هم موجونه دي، اوچکي نه دي

یم به بېوځله، خو زما دا، اوسپنیزې متې
په اراده کې مې ننګونه دي، اوچکي نه دي

سین وچولی شې له وینو نه تک سره رودونه
دا بهولی شې ، خو غرونه دي اوچکي نه دي

دا راته ویلی شې، چې وېلې به کړم دنګ برجونه
خو هر یو برج کې، توپانونه دي اوچکي نه دي

زما ریښکی ریښکی نستوري کې غښتلي متې
سپېرې به وې ، خو دا لاسونه دي اوچکي نه دي

شاعر سرې یمه په زړه کې مې د مینې کور دی
پټ مې په مینه کې اورونه دي اوچکي نه دي

ما سنګروال یو ځو بیتونه له سکروټو جوړ کړل
دا له سکروټو جوړ شعرونه دي اوچکي نه دي

پای



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ